مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۳/۰۷/۲۸

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## دوه سوه‌دیارلسمه برخه

**موږ د ناښاد وطن بچي يو**
**په موږ اباد شول د پرديو وطنونه**

**د تُور دکن مُسافر راغلل**
**زما دوس لالی له ژرندې نه راځينه**

**خدای به دې راولي جانانه**
**د چای پياله کې مې اکثر ډکي راځينه**

**يو ځلې راغی خوله مې ورکړه**
**لار يې سهي کړه په غضب ککړه شومه**

د لنډيو د دې برخې لپاره مې دا لنډۍ راټولې کړې دي:

**الله دې ژر تياره ماښام کړي**
**چې کچکول واخلم د يار در ته ودرېږمه**

**کور دې خالي له غمه مه شه**
**پر ما راغلي ورځې ستا له لاسه دينه**

**په بلې جګه تيته کېږې**
**د څرخې تار مې منجوره شو، غرق دې کړمه**

**خلکو اختر کې غاړې ورکړې**
**ما چې لمونځ وکړ کور ته راغلم ژړيدمه**

**زما شتمن لالي ته وايه**
**په پيوندي کميس مې تېر کړل اخترونه**

**اختر به وي جانان به نه وي**
**خدايه ته ورک کړې بی ديدنه اخترونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د کلي ګرد چاپېره ګرځم
چې پرې رغبېږم هغه سترګې نه وینمه

زړه راته ګډې وډې وایي
هغه څوک غواړي چې یې ګران دي دیدنونه

خدای به دې راولي جانانه
د چای پیاله کې مې اکثر ډکي راځینه

یاره که وس مې رسېدلی
لکه سپوږمۍ به دې په سر ولاړه ومه

مازدیګر مه ګوره، ما ګوره
مازدیګر تل وي، زه به کله - کله یمه

یو ځلې راغی خوله مې ورکړه
لار یې سهي کړه په غضب ککړه شومه

د بادشاهۍ لایقه یاره
ستا په تندي ګردونه زړه سوری کوینه

زه چې وړوکی وم باچا وم
چې لوی سړی شومه، د غم ټیکه‌دار شومه

مور د ناښاد وطن بچي یو
په مور اباد شول د پردیو وطنونه

پر وطن خړه غریبي ده
وړکي ګرَم نه دي چې د مور غېږه پرېږدینه

په دنیا تول د مېړو نشته
تول د پیسو دی خاینان بادشاه کوینه

امر ثاني نه دی، قیامت دی
زه مې قلم او دفتر دواړه بنخومه

امر ثاني نه دی، قیامت دی
امر ثاني ته به شي جوړ بغاوتونه

د تُور دکن مُسافر راغلل
زما دوس لالی له ژرندې نه راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ